بسم الله الرحمن الرحيم
د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطلاعاتو آمريت

۳۵گنه لېندۍ۱۴۰۳ : شماره (۳۵) قوس ۱۴۰۳ : صفحه اول : لومړی مخ

اونیزه راستنېدنه
هفته نامه عودت



علم دهرډول یرغل پر وراندې له ځانه د دفاع یوازینۍ وسیله ده .
شهيد الحاج خليل الرحمن حقاني

# د ولايتي مسولينو لپاره د ظرفيت لوړونې درې ورځنۍ ورکشاپ جوړ شو

د هېواد په ۳۴ ولايتونو کې د مهاجرينو چارو وزارت د دويمو واحدونو رييسانو، آمرانو او اجرايوي مديرانو ته د ظرفيت لوړونې درې ورځنۍ ورکشاپ د دغه وزارت د کنفرانسونو په تالار کې جوړ شو.

د دغه ورکشاپ د جوړيدو هدف د مهاجرينو، د مهاجرينو ښارګوټو، د دويمو واحدونو، د هوکړه ليکونو سمې پلي کېدا او د مرکزي او دويمو واحدونو ستونزو ته د رسېدنې برخه کې د مديريت، رهبرۍ، پلان جوړونې، راپور ورکونې، مالي مديريت، څېړنيزو او معلوماتو د پوهاوي لوړاوی دی.

لومړی د وزارت د کارکوونکو چارو رييس مولوي سيد مطيع الله خلوتي د خپل رياست کاري موخې بيان کړې او د موخو د لا ښه پلي کېدو لپاره يې د دغه ډول ورکشاپ جوړاول يو ښه فرصت وباله او زياته يې کړه: د اداري د غوره دفترداري او غوره حکومتولۍ لپاره اساسي شرط دا دی، چې مديريت او رهبري ښه شي او علم او هنر ته لا زياته پاملرنه وشي.

وروسته د وزارت مالي او اداري مرستيال شيخ کليم الرحمن فاني د اسلام د مبارک دين د احکامو او لارښوونو له نظره په نظام کې د چارواکو د کاري موخو په اړه خبرې وکړې او ويې ويل: د نظام يو مسول بايد درې ځانګړنې ولري: له الله جل جلاله څخه وېره، له نفسي خواهشاتو څخه ځان ساتل او ښه خدمتګار اوسېدل.

له الله سبحانه وتعالی څخه وېره تر ټولو غوره لامل دی چې انسان د الله تعالی له نافرمانۍ څخه لرې ساتي، د نظام د مسولانو لپاره تر ټولو غوره صفت دا دی چې له نفسي خواهشاتو ځان وساتي او د خپلې ټولنې رښتيني خدمتګاران واوسي.

ښاغلي فاني د ولايتي مسولينو د ورځنيو کارونو د پلي کولو او چمتو کولو په موخه د دغه ډول ورکشاپ جوړېدل مهم او اړين وګڼل او مظلومو مهاجرينو ته يې د رښتيني خدمت پر وړاندې کولو ټينګار وکړ.

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزير الحاج خليل الرحمن حقاني د نن ورځې د پروګرام په اړه خبرې وکړې او ويې ويل: وياړم چې له ملت، اسلامي امارت او اطاعت سره په همغږۍ کې د خپل مسوليت د ترسراوي، د احکامو او الهي اوامرو پلي کولو او د اصلاح او ښه خدمت په موخه په دې ورکشاپ کې يوځای يو.

له څو لسيزو وروسته موږ د اسلامي حکومت، يووالي او اتفاق شاهدان يو،



چې الله تعالی موږ ته يو واحد نظام را ډالۍ کړی دی، چې په ټوله کې اسلامي احکام پلي شوي دي.

د هېواد دښمنان غواړي چې په بېلابېلو لارو او په رنګارنګو دسيسو حاکم نظام او يووالی بدنامی کړي.

ښاغلي حقاني ګډونوالو ته خطاب کې زياته کړه: د افغانستان خلک په تاسو باور لرئ او د الله تعالی او اسلامي امارت پر حکمونو عمل وکړئ. پر خلکو رحم او کرم ډېر کړئ او خلکو ته خپل رښتيني خدمتونه ترسره کړئ.

نوموړي همدا راز له مسولينو وغوښتل، چې د ژمي د موسم له رارسېدو مخکې دې له همکارو بنسټونو سره په ښه همغږۍ له مهاجرينو سره بشري مرستې وکړي.

په نننۍ ورکشاپ کې د ملکي خدمتونو د انستيتوت استاد عبدالله فضل يار ګډونوالو ته د يو پريزنټيشن په ورکولو سره د رهبرۍ، د ظرفيت لوړونې، پلان جوړونې او د مهمو عناصرو په اړه يې معلومات ورکړل.

## رياست های پاليسی و پلان و انسجام موسسات در امور مهاجرين برای شاملين ورکشاپ سه روزه پرزنتيشن ارايه نمودند




در روز نخست ورکشاپ سه روزه ارتقای ظرفيت برای رو سا، آمرين و مديران اجرائيه واحد های دومی وزارت امور مهاجرين ۳٤ ولايات کشور، درتالار کنفرانس های وزارت نماينده های رياست های پاليسی و پلان و انسجام موسسات در امور مهاجرين پرزنتيشن معلوماتی شان را ارايه نمودند.

نماينده های رياست های ياد شده معلومات مفصل را به منظور معرفی سيستم کاری مديريت و چگونگی تهيه پلان های سالانه، نظارت از پروژ های منعقد شده موسسات با وزارت و آشنايی با طرز تهيه و تطبيق آن برای شاملين ارايه نمودند.

بيان و تشريح معلومات متذکره در رابطه به اهميت و مزايايی سيستم های ياد شده کمک می کند تا در هر زمان و مکان از آن استفاده بيشتر صورت گرفته و از طريق برگزاری چنين ورکشاپ ها با آن آشنايی کامل و در نتيجه با نظارت مستمر سيستم اداری و مديريت غنی و به کمال خواهد رسيد.

## په مهاجرينو وزارت کې د راتلونکي کال لپاره د اړتياوو په اړه ناسته وشوه



د راتلونکي ١٤٠٤ هجري لمريز کال د اړتياوو په اړه د لازمو او دقيقو لارښوونو د برابرولو په موخه د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت کې د تدارکاتو امريت له لوري د مرکزي رياستونو د اجرايوي امرينو او مديرانو په شتون کې د وزارت په تالار کې ناسته وشوه.

پيل کې د تدارکاتو امر محمد جمال ځدراڼ خبرې وکړې او ويې ويل: موږ اراده لرو چې د راتلونکي کال ١٤٠٤ هجري لمريز کال د اړتياوو او تدارکاتي پلانونو پر

بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۳۵ گڼه لېندۍ ۱۴۰۳ : شماره (۳۵) عقرب ۱۴۰۳ :صفحه دوم : دویم مخ

راستنیدنه عودت
اونیزه هفته نامه



پاکستان کې د جگپوړو چارواکو او هلته د بهرنیو هېوادونو ډيپلوماتانو په شتون کې د شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني د فاتحې او درناوي مراسم ترسره شول

بنسټ کار پیل کړو او د بودیجې امریت سره په همغږۍ ترتیب او د هغې له مخې به مخ ته ځي.

هغه په تدارکاتو کې سپما کول یو مهم اصل وباله او زیاته یې کړه: که اړتیاوې په سطحي توگه په پام کې ونیسو، نو په راتلونکي کې به له ستونزو سره مخ شو، هر څومره چې اړتیاوې دقیقې او منظمې وي، په راتلونکي کې به هم په ښه توگه پلې شي.

وروسته د پورتنۍ موضوع په اړه د تدارکاتو ریاست د قراردادونو د اسانتیا او پلان جوړونې رئیس اجمل نصرت لخوا چمتو شوی پریزنټیشن په تفصیل سره وړاندې شو.

## نشست کمیته توزیع زمین در ولایت نورستان برگزار شد



نشست کمیته توزیع زمین برای برگشت کننده گان مطابق به فرمان عالیقدر امیرالمومنین در ولایت نورستان بر ریاست والی آن ولایت و با حضور اعضای آن کمیته برگزارشد.

مولوی شهاب الدین ثاقب آمر امور مهاجرین نورستان در نشست یاد شده یاد آورد شد که در ولایت نورستان زمین دولتی وجود ندارد بدین لحاظ آنها در تطبیق ساخت شهرک های مهاجرین با مشکل مواجه بوده و در این راستا خواهان همکاری والی آن ولایت شد.

قاری زین العابدین عابد والی نورستان ساخت شهرک برای مهاجرین را یک امر ضروری دانسته و از همکاراش با هماهنگی وزارت امور مهاجرین در ساخت شهرک ها در آینده به اعضای کمیته اطمینان داد.

## پکتیکا کې د همغږۍ ناسته وشوه



په پکتیکا ولایت کې تېره ورځ د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست او د همکارو موسسو استازو تر منځ د همغږۍ ناسته وشوه.

په دې ناسته کې د پکتیکا مهاجرینو رییس له همکار موسسو څخه ژمې وړاندې د راستنو شویو، بې ځایه شویو او اړمنو کورنیو سره د مرستو غوښتنه وکړه.

بل لورته د همکارو موسسو استازو خبرې وکړې، خپل راتلونکي پلانونه یې شریک کړل او د مرستو په اړه یې خپلې ژمنې وکړې.

## پاکستان کې شل تنه بندیان له بنده خوشې شول



په پاکستان کې ۲۰ تنه افغانان بندیان له بنده خوشي او خپل هېواد ته راستانه شول.

د ننگرهار ولایت د تورخم سرحدي آمریت د معلوماتو له مخې، دغه کسان د قانوني اسنادو د نه لرلو له امله له یوې میاشتې څخه تر دوو کلونو پورې د پاکستان په زندانونو کې بندیان وو او په هغه هېواد کې د افغانستان د مهاجرینو چارو اتشې په همکارۍ او هلو ځلو له خوا خوشې او د تورخم د پولې له لارې خپل هېواد ته راستانه شول.

د یادونې وړ ده، په دوی کې دوه تنه چې عمرونه یې له ۱۸ کلونو کم وو د ننگرهار د تورخم سرحدي آمریت په همغږۍ د مرستو په موخه WADAN او HARO موسسو ته ور وپېژندل شول.

## کارساخت ده ها باب مبرز و ترمیم شبکه های آب، در ولایت لغمان آغاز شد



به اساس گزارش ریاست مهاجرین ولایت لغمان، کار ساخت ٤٣ باب مبرز، ترمیم دو شبکه آب، توزیع ۳۱۰ بسته صحی و برنامه آگاهی دهی در ولسوالی علینگار آن ولایت آغاز شد.

به گفته مولوی غلام رحمن بلال رییس مهاجرین آن ولایت با تطبیق پروژه های متذکره یک هزار و ۷۱ خانواده بیجاشده، برگشت کننده و مردم محل از آن مستفید خواهد شد و برای ده ها تن از جوانان زمینه کاری نیز فراهم میگردد.

پروژه های یاد شده به ارزش چهار اعشاریه چهار میلیون افغانی با حمایت مالی موسسه AHF تطبیق میگردد.

## پاکستان کې د جگپوړو چارواکو او هلته د بهرنیو هېوادونو ډيپلوماتانو په شتون کې د شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني د فاتحې او درناوي مراسم ترسره شول

د پاکستان هېواد په اسلام اباد ښار کې د افغان مهاجرینو اتشې د راپور له مخې په پاکستان کې د جگپوړو چارواکو او هلته د بهرنیو هېوادونو ډيپلوماتانو په شتون کې د لېندۍ پر درویشتمه نېټه د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د شهادت په مناسبت د فاتحې او درناوي وړاندې کولو مراسم ترسره شول او په اسلام اباد کې د اسلامي امارت په لوی سفارت کې د شهید حقاني د درناوي او تعزیت کتاب کېښودل شو.

دا مراسم چې اسلام اباد کې د اسلامي امارت د سفارت سرپرست احمدخان شکیب او ځینو ډيپلوماتانو په شتون کې ترسره شول د پاکستان حکومت جگپوړو چارواکو، د سیاسي گوندونو رهبرانو، سفیرانو او د روسیې او اندونیزیا هېوادونو لویو ډيپلوماتانو د شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني په یاد کې د خپل تسلیت مراتب د افغانستان دولت او ملت ته وړاندې کړل.

دغه راز د افغانستان لپاره د پاکستان ځانگړي استازي صادق خان، د جمعیت علمای اسلام جگپوړي غړي صلاح الدین ایوبي، د جماعت اسلامي مشر حاجي ابراهیم او د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت جگپوړو چارواکو د شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني د فاتحې او ختم په مراسمو کې گډون کړی و او د تسلیت او خواخوږۍ مراتب یې وړاندې کړل.